# د خره بچی

Lindiwe Matshikiza
Meghan Judge
Zahidullah Abid
3
پښتو ps

یوې وړې نجلۍ ته په لرې فاصله کې یو شکل تر سترګو شو.

څومره چې شکل رانیږدې کېده، هغې ولیدل چې دا یوه امیدواره ښځه ده.

وړه جلۍ ډېره زړوره وه. ميرمنې ته ورنږدې شوه، ويې ويل، “دا ښځه بايد موږ له ځان سره يوسو” خلکو هم ومنله او زياته يې کړه، “چې ميرمن او ماشوم بايد خوندي ځای ته يوسو.”

میرمن حامله وه او بچی ېې د زیږیدو په حال کې و، په عاطفي بڼه ېې ویل، "ویششش!!!" "کمېله راوړئ!!!" "اوبه راوړئ!!!!"

کله چې هغوی ماشوم ولیده، نو ټول حیران شول او شاته یې ټوپ کړ چیغه یې کړه. “وای خر؟!”

خلکو خپل منځ کې خبرې کولې، ویل یې چې د میرمنې او ماشوم سمه پالنه به وکړي، خو د دوی د غوښتنې برعکس ټول حیران و. ځینو ویل دا به مور ته بدبختي راوړي.

ښځه بیا یوازې شوه، حیرانه وه چې د نوي زیږیدلي بچي سره څه وکړي او ځانته هم په اندیښنه وه چې چیرته لاړه شي.

خو بالاخره هغې ومنله چې هغه د هغې ماشوم او دا د ده مور ده.

د ښځې نوي زيږيدلي بچي وده وکړه ، او دومره لوی شو چې نور د ميرمنې وس نه و چې په شا يې وګرځوي. څومره چې يې کوښښ وکړ د انسان په څير يې چلند نه شو کولای، خو مور به ډيره ستړې وه. کله کله به يې دې ته وهڅوه چې ځيني کارونه ترسره کړي.

. خر ډېر وارخطا او غوصه و. تل به ېپ مور ورسره جګړه کوله. دا نه شېپ کولای، کار دي زده نه دی، بلاخره یوه ورځ خر غوصه شو او مور ېپ په ځمکه ووهله.

خر ډېر زيات شرمېده. او لرې يو ځای ته وتښتېده.

. کله چې ودرېده، ګوري چې توره شپه ده. اواز يې وکړ، وېې انګل، خو يوازې خپل غږ يې بيرته اورېده. يو ګوښه ځای ځملاسته او په ژور خوب ويده شو.

کله چې له خوبه راویښ شو، په یو نابلد بوډا سړي یې سترګې ولګېدې چې ده ته په ځیر ځیر سره ګوري. هغه د زاړه سړي سترګو ته وکتل او د امید احساس یې پیدا شو.

خر له بوډا سره د یو ځای اوسېدو په موخه روان شو، بوډا او خره له یو بل څخه ډېر څه زده کړل، او له یو بل سره به يې مرسته کوله. دوی په یوځای اوسیدو کې خوشحاله وو.

يو سهار بوډا له خره څخه وغوښتل چې هغه د غره سر ته ورسوي.

په لوړه د ورېځو په منځ کې دواړه ويده شول. خره خوب وليده، چې مور يې ناروغه ده او ده ته غږ کوي. کله چې خر له خوبه راويښ شو ...

... وریځې نه وې او ملګری یې “زوړ سړی” هم نه معلومېده.

خر په پای کې پوه شو چې باید څه وکړي.

خر خپله مور ولیدله چې یوازې وه او د خپل ورک شوی ماشوم په غم کې یې ژړل. دوی یو بل ته په ځیر ځیر وکتل. بیا یې یو بل په غېږ کې ونیول.

. خر او مور یې چې مخکې یې د ګډ ژوند تجربه درلوده، اوس له یو
بل سره خوښ و، او د وخت په تېرېدو سره د دوی تر څنګ ډېرو
نورو کورنیو هم ژوند پیل کړ.

# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## د خره بچی


Lindiwe Matshikiza
Meghan Judge
Zahidullah Abid



CC BY